# نوح

**مکی سورة دی ۲۸ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرۡ قَوۡمَكَ مِن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَهُمۡ عَذَابٌ
أَلِيمٞ ١

**مونږ نوح د هغه قوم ته واستاوه تر څو يې وړاندې له وړاندې وويروی، چې( د دوی د کفر او عناد له امله) ورباندې د ( توفان) دردوونکی عذاب راروان دی.**

قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ٢

**ورته يې وويل: ای زما قومه!  زه تاسو ته ښکاره او څرګند اخطار درکوونکی( پيغمبر) يم.**

أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ ٣

**( او درته لارښوونه کوم)چې يوازې د الله تعالی عبادت وکړئ، د هغه( له عذابه) وويرېږئ او زما اطاعت وکړئ.**

يَغۡفِرۡ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُؤَخِّرۡكُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّىۚ إِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ إِذَا جَآءَ
لَا يُؤَخَّرُۚ لَوۡ كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٤

**ګناهونه به مو درته( الله تعالی) دروبښی او تر ټاکلې مودې به د ژوند مهلت درکړی. که پوهېږئ( نو په دغو نصيحتونو عمل وکړئ ځکه) د الله تعالی د ټاکلی وخت په رارسيدو کې بيا هيڅ ځنډ او تأخير نشته.**

قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوۡتُ قَوۡمِي لَيۡلٗا وَنَهَارٗا ٥

**بيا يې( الله تعالی ته) عرض وکړ چې: ای زما ربه! ما خپل قوم ته شپه ورځ( نهه سوه پنځوس کاله د توحيد د قانون منلو) دعوت ورکړ.**

فَلَمۡ يَزِدۡهُمۡ دُعَآءِيٓ إِلَّا فِرَارٗا ٦

**خو زما د دعوت او تبليغ په مقابل کې د هغوی نفرت او تيښته لا پسې زياته شوه.**

وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوٓاْ أَصَٰبِعَهُمْ فِيٓ ءَاذَانِهِمْ
وَٱسْتَغْشَوْاْ ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّواْ وَٱسْتَكْبَرُواْ ٱسْتِكْبَارًا ﴿٧﴾

او کله چې ما هغوی( توحید منلو او ستا له حضوره مغفرت غوښتنې ته) راوبلل، تر څو ښښنه ورته وکړې نو ګوتې به یې په غوږونو کې کیښودې( ترڅو زما دعوت وانه وری) او ځانونه به یې پخپلو کالیو کې راونغښتل( ترڅو ما ونه وینی) او په تکبر سره به پخپل انکار ټینګ ودریدل.

ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ﴿٨﴾

بیا مې په علنی توګه( د جرګو، مرکو او غونډو په جوړولو سره توحید ته) راوبلل.

ثُمَّ إِنِّيٓ أَعْلَنتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا ﴿٩﴾

بیا مې( د جرګو مرکو  نه علاوه) په عمومی او خصوصی غونډو کې هم ویناوې ورته وکړې.

فَقُلْتُ ٱسْتَغْفِرُواْ رَبَّكُمْ إِنَّهُۥ كَانَ غَفَّارًا ﴿١٠﴾

ورته مې وویل:( له کفر او شرک نه لاس واخلئ) او له خپل رب نه ښښنه وغواړئ بیشکه چې هغه ډیر زیات ښښونکی او مهربان ذات دی( او ستاسو ګناهونه به درته دروبښی).

يُرْسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ﴿١١﴾

په تاسو به له پاسه( له برکتونو ډک) پرله پسې وربښتونه وکړی.

وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَٰلٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّٰتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَٰرًا ﴿١٢﴾

او د مال او اولاد په لورینه به مو مرسته وکړی، باغونه به درکړی او ویالې او رودونه به مو تاند کړی.

مَّا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا ﴿١٣﴾

په تاسو څه شوی چې د الله تعالی  په لویئ او وقار اعتقاد نه لرئ؟( ولې یې عظمت او جلال ته د عبودیت سر نه ټیټوئ او له عذابه یې نه ویریږئ؟)

وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا ﴿١٤﴾

په داسې حال کې چې تاسو یې پړاو په پړاو( له خاورې، نطفې، مضغې، غوښې، هډوکو او.....) نه پیدا کړی یاست.

أَلَمْ تَرَوْاْ كَيْفَ خَلَقَ ٱللَّهُ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ طِبَاقًا ﴿١٥﴾

**تاسي نه ګورئ چې الله تعالی اوه آسمانونه څنګه يو د بل له پاسه پيدا کړی دی.**

وَجَعَلَ ٱلۡقَمَرَ فِيهِنَّ نُورٗا وَجَعَلَ ٱلشَّمۡسَ سِرَاجٗا ﴿١٦﴾

**او سپوږمۍ يې پکې رڼه( او ځمکي ته روښنايي ورکوونکې) او لمر يې روښانه څراغ( ځمکي ته د روښنايي، تودوخې او انرژئ ورکوونکی) ګرځولی دې.**

وَٱللَّهُ أَنۢبَتَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ نَبَاتٗا ﴿١٧﴾

**او الله تعالی تاسو( په خاصه توګه) له ځمکي نه را پيدا کړی ياست( يعني آدم له خاورې او وروستی نسلونه يې د ځمکنيو  غذايي محصولاتو څخه چې نطفه ترې جوړيږي، پيدا شوی دی) .**

ثُمَّ يُعِيدُكُمۡ فِيهَا وَيُخۡرِجُكُمۡ إِخۡرَاجٗا ﴿١٨﴾

**بيا مو بيرته  همدغې( ځمکې) ته ورګرځوی، او بالاخره مو بيرته په ځانګړې( ژوندئ بڼه) له هغې نه راوباسی.**

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ بِسَاطٗا ﴿١٩﴾

**او الله تعالی دی چې تاسو ته يې ځمکه لکه فرش غوړولې ده.**

لِّتَسۡلُكُواْ مِنۡهَا سُبُلٗا فِجَاجٗا ﴿٢٠﴾

**ترڅو د هغې په لويو او پراخو لارو ( هر چيرې چې وغواړئ) سفرونه وکړئ.**

قَالَ نُوحٞ رَّبِّ إِنَّهُمۡ عَصَوۡنِي وَٱتَّبَعُواْ مَن لَّمۡ يَزِدۡهُ مَالُهُۥ وَوَلَدُهُۥٓ إِلَّا

خَسَارٗا ﴿٢١﴾

**نوح وويل: ای ربه!( خو له دې ټولو نصيحتونو سره سره) هغوی زما نافرمانی وکړه او د هغو کسانو( د کفر او شرک د سردارانو او د بتخانو د متوليانو) اطاعت يې وکړ چې د مال او اولاد کثرت يې زيانمن کړی وو.**

وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا كُبَّارٗا ﴿٢٢﴾

**او (دغو کافرو رهبرانو، د خلکو د بې لارې کولو لپاره) ډول ډول چلوټې او دسيسې په کار واچولې.**

وَقَالُواْ لَا تَذَرُنَّ ءَالِهَتَكُمۡ وَلَا تَذَرُنَّ وَدّٗا وَلَا سُوَاعٗا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ

وَنَسۡرٗا ﴿٢٣﴾

او ورته وايي: پام چې له خدايانو مو لاس وانخلئ او خپل (بتان) ود ، سواع، يغوث، يعوق او نسر پرې نه ږدئ.

وَقَدْ أَضَلُّوا كَثِيرًا ۖ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا ﴿٢٤﴾

او په دې ډول يې ډير خلک بې لارې کړل، نو( ای ربه) ته هم ظالمانو ته له ګمراهی نه غير، (د ژوند په هيڅ ډګر کې) پرمختګ مه ورکوه .

مِّمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا فَلَمْ يَجِدُوا لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ أَنصَارًا ﴿٢٥﴾

بالاخره( ټول کافران او مخالفين) د خپلو ګناهونو له امله په توفاني اوبو لاهو شول( او له مرګ سره سم) هغه اور ته وروغورځيدل چې له الله تعالی نه غير يې هيڅ يار او مددګار ترې راويستلی نشی.

وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا ﴿٢٦﴾

او نوح وويل: ای ربه! د ځمکې په مخ د هيڅ يوه کافر کور آباد مه پرېږده.

إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾

که يې ژوندی پرېږدې، ستا بندګان به بې لارې کړی، او يو فاسد او ناشکره نسل به ترې پيدا شی.

رَّبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا تَبَارًا ﴿٢٨﴾

ای ربه! ما وبښه. مور او پلار مې وبښه او هغه کسان وبښه چې زما کور ته د مؤمنانو په حيث پناه راوړی.
او ټولو مؤمنانو نارينه او مؤمنو ښځمنو ته بښنه وکړه. او د ظالمانو لپاره له هلاکت او بربادئ نه غير، بل څه مه زياتوه.

« تمت سورة نوح بفضل الله و رحمته»

======================